مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سميع الدين افغاني

۲۰۲۰/۰۲/۰۵

# فـتـنـه ګر

بې ضميره لــوی دښمن دی د بشر
بې حيا او بـــې انصافه دی فتنه ګر

خپلې ګټې او د بل بربادي غـوارې
چال ، دوکه او مکاري يــې ده هنر

په ظاهر به د ورورۍ نه درته وايي
خو په زړه کې د ابليس نه دی بدتر

نه انصاف نه ترحم لري په زړه کې
دی بې رحمه ،خرابکار دی، ستمګر

ولسونه که دغم په تغر ناست وي
پروا نکړي که سوځيږي سمه او غر

په فريب او په دوکو يې زندګي ده
د حرامو روزي نه شي سپين او زر

تل د بــل عيبونه شماري حقيقت کې
دی د خپلو عيبو نـــه دي بـا خبر

که په هرجامه، لباس کې را ظاهر شي
دی هويت يې معلومدار په لر او بر

ربه تـــه يې هدايت د نيکي وکـــړې
د اخلاص يې په زړه نښته کوم اثر

------------------------------

شاعر : سميع الدين افغاني
۵ – ۲ – ۲۰۲۰


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

م ۰ کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ